نصیر احمد څپاند ۲۰۱۳/۰۸/۲۵

# دهیواد دخپلواکی ۹٤ کلیزه دحکومت خاموشی او پیکه لمانځنه

ګرانو هیوادوالو دهرڅه نه مخکی دهیواد د سیاسی خپلواکی د بیرته اخیستنی ۹٤ کلیزه مو مبارک شه قدرمنو هیوادوالو تاسی ته بهتره معلومه ده چی د هیواد خپلواکی مونږ ته چا په خیرات او یا سوغات کی نده را کړی دا د هغو با همت او با شهامت افغانانو د وینو او ککریو په قربانیو اخیستل شوی او تر لاسه شوی ده

چی په کال۱۹۱۹ کی د ستر رهبر او د آزادی اعلیحضرت غازی امان الله خان لخوا د اسد په ۲۸ نیټه رسمآ اعلان شوه او د افغانستان د حکومت لخوا دغه نیکمرغه او پرتمینه ورځ په دیرو شاندارو او پرجوشه مراسمو سره دیو ملی جشن په توګه لمانځل کیده او دغه ورځ کی به دهیواد په ګوټ ګوټ جشنونه او میلی به وی.

مګر په ډیر تأسف او خواشینی سره دا څوکاله د حکومت او هم د تش په نوم سیاسی اپوزیسیون لخوا ډیره پیکه لمانځل کیږی.
د هیواد ۹٤ کلیزه هم دحکومت او په رأس کی د مصلحتی پالیسی پالونکی رئیس جمهور او تیم لخوا یی صرف د آزادی د منار باندی د ګلونو د ګیډی په کیښودلو سره اکتفا وکړه او ولمانځله شوه.

تش په نوم سیاسی اپوزیسیون او سیاسی احزابو هغه که ملی جبهه' ملی ائتلاف' د بحران نه د نجات جبهه ' او که مطرح ګوندونه حق او عدالت' د وطن د ترقی ملی ګوند' جعمیت اسلامی' حزب اسلامی او افغان ملت ګوندونو د خاموشی' بی تفاوتی روژه نیولی وه او صرف په کوچنیو د مبارکیو په پیغامونو یی اکتفا وکړه صرف نوی رامینځ ته شوی دافغانستان ملی تحریک – ملی غورځنګ او افغان یون ګوندونو ډیر فغال او متحرک و او عزتمندو هیوادوالو سره یی یوځای خوار په جوش افغانی او وطن پالنی په احساساتو سره دغه شاندار ورځ په ډیرو ناچیزه امکاناتو سره ولمانځله حکوت دنیاوالو او د وطن د ښمنانو او خارجی ګوډاګیانو ته د ملی یوالی – د آزادی او خپلواکی د ساتنی د خلکو – هیواد او ملی ګتو ته د وفاداری ثبوت ورکړو او دایی ثابته کړه چی افغان ملت لا ژوندی دی او خپلی تاریخ رسالت یی ښکار کړو. همدا رنګه د ولایتو والیانو هم د جمهور رئیس د پالیسی نه په نقل سره په ولایتو کی هورته کوچنیو مراسمو سره ولمانځله قوماندان عطا محمد نور او د شمالی ولایتونو نور والیانو هم سیاسی روژه نیولی وه مګر د شمال با عزت ورونو ملیتونو او ولایتو شوراګانو لخوا دیر په جوش او جذبه سره دغه مراسم ولمانځل په حکومت ئی غږ وکړ چی په آینده کی دغه ملی ورځ بیا په بی تفاوتی سره تیره نکړی او په شاندارو مراسمو یی ولمانځی.

په دی پرتمینه ورځ کی زمونږ د اطلاعاتو او کلتور وزیر بلکل څرک نه وو همدا رنګه طلوع تلویزیون - یک تلویزیون- تمدن - خورشید چی د ګاونډیو هیوادونو لخوا تغذیه کیږی بالکل ناخبر او یا هم په شعوری توګه د بی تفاوتی مظاهره وکړه.
حال دا چی په نورو هیوادونو کی میاشت مخکی دغه پرتمنیه ورځی د لما نځلو لپاره د حکومت او خصوصآ د اطلاعاتو او کلتور وزارتونه جامع او خصوصی پروګرامونه، علمی سمینارون- کنفرانسونه عامه پوهاوی پروګرامونه تاریخی او د آزادی او ملی اتلانو مزارونو بیا رغوی او د ښارونو واټونه سمسوراو ښکلی کولو لپار کار کوی حتی کلنی بودیجی کی مشخص رقم اختصاص وی. په هر صورت یواځی دوو ملی تلویزیونونو ژوندون – او شمشاد تلویزیون او رادیو په خورا جوش او جذبه او میرانی سره د لویو غونډو او تفریحی پرتمینو خپرونو او پروګرامونو سره ولمانځله او د هیواد و الو تنده ئی ماته کړه او ملت ته یی تسلی ورکړ او خپل د ملی رسالت یی پرځای کړو او دایی ثابته کړه :

## ترڅو چی یو افغان وی تل به افغانستان وی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

مونږ هم شمشاد تلویزیون او رادیو او همدا رنګه د ژوندون تلویزیون ته لا هم بریاوی غواړو او خپلو ملی سوداګرو ته خواست کوو چی د خپلو ملی تلویزیونونو ملاتړ وکړی ترڅو لا پیاوړی شی.

د حکومت همدا رنګه د اطلاعاتو او کلتور وزارت دغه بی تفاوتی د خلکو او ولس د احساساتو سبب ګرځیدلی ده په ګران هیواد کی میشت قومونه او تبارونه او ټول اولسونه د حکومت څخه غوښتنه کوی چی دغه ملی ورځ په خورا درنو او شاندارو مراسمو سره باید ولمنځله شی.

د افغانستان ملی تحریک – د افغانستان ملی غورځنګ او افغان یون ګوندونو د رهبری څخه هیله کوو چی په یو سیاسی محور او سیاسی تغر سره یوزای او یوالی وکړی تر څو لاغنی – قوی مستحکم او واقعاً یو ملی سراسری حرکت باندی بدل شی او دغه غمیزی ته د پای ټکی کیږدی همدا رنګه په اخیر کی په هیواد کی میشتو ټولو ورونو، مختلفو قومونو – مدنی ټولنو – ملی شخصیتونو څخه غوښتنه او خواست کوو چی د افغانستان د ملی تحریک – ملی غورځنګ – او افغان یون د ګوندونو لیکی پیاوړی او ملا تړ وکړی او لاس په دوعا شی ورته او په ګډه سره د خپل هیواد - خلکو او موجود ستونزو ته د حل لاره پیدا کړی او دغه غمیزهته د پای ټکی کیښودلی شی.

ختم



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ